# د اې اېن پي د مرکزي صدر

# اسفنديار ولي خان پېغام

دا خبره په کولو ډېره اسانه ده چې مونږ ووايو چې باچا خان او د هغهٔ ملګرو د پېرنګي نه ازادي واخسته خو د دومره مودې نه دلته د ناست پېرنګي نه دغه ازادي چې کومو ننګيالو د باچا خان بابا په رهنمايۍ کښې اخستې ده. دا تپوس د هغوي نه پکار دے چې کهٔ يو طرف ته ئې په تشو لاسو او د صبر او زغم په وسله د پېرنګي د توپونو او ټېنکونو سره سره د هغهٔ د ظالمانه قېدوبند مقابله کوله او کهٔ په بربنډو سينو او شلېدلو ګرېوانونو ئې د هغهٔ د بې تهذيبۍ او خپلو عزتونو د لوټ کېدو مقابله کوله. دا تفصيل کهٔ يو طرف ته ډېر اوږد دے نو بل طرف ته دومره دردناک دے چې تش اورېدهٔ ئې هم د حساسو انسانانو د وس خبره نهٔ ده. سوال دا دے چې هغه عزت مند پښتانهٔ چې د جرګو مرکو خلق وو د خپلو خپلو عزيزوليو او وروروليو د عزت او ناموس شملې وې، هغه خلق چې بې عزته کېدل خو لکه د غرونو به په خپل خپل مقام ولاړ وو. آيا هغوي کوم ضد په مخه اخستي وو کنه کوم جهل خطا کړي وو، نا داسې نهٔ ده، هغوي د ازادۍ د ژوند دپاره هغه شعور حاصل کړے ؤ کوم چې د ازادۍ غوښتونکو لېونو دپاره ضروري وي، هغوي د وطن او د وطن د خاورې او قام په معنې او مفهوم پوهه شوي وو. جهل او ضد خو بزدلي وي، د قام د ازادۍ او بقاء دپاره د جدوجهد مېدان ډېر وسيع وي، په ډېر عمر او ډېرو کلونو خور وي. په دغې کښې د يو ساعت ضد او يو ساعت ځېل نهٔ چلېږي. يو مفکر وائي چې په عشق او محبت کښې فرق دا دے چې محبت په مساوي بنيادونو کېږي او عشق يوه داسې جذبه ده چې بنده پکښې ځهٔ غواړي نهٔ بلکې ځهٔ ورکوي. د ازادۍ دغو ننګيالو تر دې دمه ځهٔ غوښتي نهٔ دي، بلکې دې عشق له ئې د خپلو عزتونو لوټ کولو نه علاوه د مال بچو او جائدادونو قربانۍ هم ورکړې دي.

باچا خان بابا چې پښتنو له کومه وسله په لاس کښې ورکړې وه، هغه د امن عدم تشدد او مسلسل جدوجهد هغه وسله وه چې د پېرنګي نه پس چې په دې وطن څومره آمران او ډکټېټران راغلي دي نو ولي خان بابا هغه وسله د جمهوريت د ودې دپاره په استعمال کښې راوسته. هغه هم هغه پښتانهٔ په دغې مېدان وجنګول، فکر و نظر ته ئې وسعت ورکړو، د جمهوري قدرونو سبق ئې عام کړو او داسې کردار ئې ادا کړو چې نن هم د دې ملک د جمهوري تاريخ د فخر وړ برخه ده. نن چې څوک هم د ولي خان نوم اخلي نو ډېر د فخر او وياړ سره ئې اخلي خو متاسفانه د پښتنو د خاورې ازلي دښمنان چې پوهه شو چې د باچا خان او ولي خان د قافلې دننه او بهر

پښتنانهٔ اوس د عدم تشدد او امن او جدوجهد په وسله پُرمعمور د خپل منزل په طرف روان دي نو یوې بلې داسې لوبې ته ئې مېدان تیار کړو چې نهٔ یوائې ئې پښتون په پښتون قتل کړو بلکې په هغه وسله لبس شوي پښتانهٔ ئې د ګوزار لاندې د دې دپاره راوستل چې هغوي د ستر بابا د فلسفې وسله وغورځوي او د ډز ټوپک او تشدد په لاره راشي او ټولې راټولې کړې ګټې ئې د بائلات سره مخ شي خو هغوي شاید د جهد مسلسل په مېدان، د تشدد او عدم تشدد د جنګ بېلتون نهٔ دے کړے او هغوي د دې احساس نه هم محرومه ښکاري چې په دنیا کښې یا د دنیا په تاریخ کښې یا د جنګونو په تاریخ کښې هم په یو تهذیب کښې لوئے شوي خلق د چا په مقدساتو د حملې جرات نهٔ شي کولے او دا ځکه چې د نن دنیا کهٔ هر څو د ظلم او جبر د نظامونو په ولقه کښې هم ده خو د نننې ژوند دپاره د تاریخ، تهذیب او کلتور او انساني عظمت برقرار ساتلو دپاره کهٔ څهٔ انساني او اخلاقي ضابطې هم شته خو د دې سره سره ډېرې دینې مذهبي او عقیدوي ضابطې هم موجودې دي. د هغې نه تېرېدهٔ وحشت او بربریت ته دعوت ورکول دي په جبلتونو ژوند د حېواناتو کار دے د انسان کار په جبلتونو قابو موندل دي.

مونږ د داسې رویو په غبرګه کښې لوئے شوي پښتانهٔ یو چې اوس کله د لوئے باچا خان بابا او لوئے ولي خان بابا یاد نمانځو نو اګر چې په لاسو کښې به مو د وطن وینې وینې تصویر نیولے وي. د سترګو نه به مو د درد د اور بڅرکي دانګي خو په شونډو به مو د باچا خان بابا د امن او عدم تشدد نغمګي هم وي او د دې لوئے یاد په ورځ به دغه لوظ هم تازه کوو چې مونږ به خپلو ټولو خدائي خدمتګارانو ته او د هغوي بچو ته د وینې وینې وطن په ځائے د ګلونو او سپرلو نه ډک وطن ورسپارو. انشاءالله